مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

فرستنده ناهید علومی ۲۰۲۱/۰۲/۲۷

تاریخ جوړونکی ښځی
دهندوستان پښتانه
ابادي بانو بیګم (بی اما)

د هند د خپلواکۍ غورځنګ دوو ورونو محمد علی جوهر او شوکت علی مور په تاریخ کي د "بي اما" په نوم شهرت لري.
ابادی بانو په ۱۸۵۰ م . کي په **روهیله** *ریاست رامپور کي وزیږیده. د دې پلارشیخ مظفرعلی په نجیب آباد کي د پوځ په سپاره دسته کي شامل وه.
په ۱۸۵۷م . کي د انګریز خلاف د پوځ په پاڅون کي شیخ مظفرخپله میرمن، لور **ابادی بانو** او زوی رشید بیرته رامپور ته واستول. پخپله د یاغیانو په ډله کي وجنګید. او په ټپي حالت کي له نجیب اباد وتښتید. دی څه موده د انګریز پوځ نه په یو غارکي پټ وه .او بیا په نېم ژوندی حالت کي بې رامپور ته یې ځان ورساوه. شیخ مظفر ډېره موده په خپل کور کي پټ اوسید، ځکه د انګریز باغي ته پناه ورکول جرم وه. د **ابادي بیګم** د ټبر په سوونو خلک انګریزانو غرغره کړل. دا هغه وخت ماشومه وه، خو د انګریز په ضد نفرت ورته په میراث کي پاتي شو.
په ځوانۍ کي **ابادي بانو** عبد العلی خان یوسفزي ته ور واده شوه چي رامپور د نواب ملازم و. دی د کولرا په ناروغۍ مړ شو نو ابادي بانو د ۳۰ کالو او د ۶ اولادونو کونډه مور شوه.
هغي پخپله د ښوونځی مخ نه و لیدلی او په کور کي یې دیني تعلیم کړي وه خو د بچو لپاره یې ورته د انګریزانو مکتب غوره کړو چي لګښت یې ډېر وه. هغي خسرګنۍ ته د مرستي وویل نو لیور یې مخالفت کاوه. چي د انګریزي مکتب په سبق به د ده زامن کافران شي .**آبادي بانو** دا خبره نه منله او د خپل ګاونډۍ د یو خدمتګاري په لاس خپل کالي د صراف سره ګانه (ګرو) کیښودل چي زامن د بریلي په یو انګریزي مکتب کي داخل کړي. لیور یې خبر شو نو ګانه یې د زرګر نه خلاصه کړه او د ماشومانو د تعلیم لپاره یې ورسره لاس وکړو.
د **ابادي بانو** ژوند ساده او بچو ته یې معمولی جامي او ډوډۍ ورکول. ورسره د اولاد دیني زدکړو ته یې هم پام وکړو او مولانا شوکت علی علینګرهه او محمد علی اکسفورډ کي لوړي زدکړي تر سره کړي. محمد علي جوهر یو تکړه مقرر و چي دغه استعداد کي د هغه د مور لوی لاس و. د ۲۰ پېړۍ د سر نه دواړه ورونه چي " علی برادران" په لقب مشهور وه، د انګریز سیاست د مقابلي لپاره میدان ته ورغلل. د رامپور نواب حامد علی خان په دواړو بندیز ولګوو چي ریاست ته به نشي ورتلی. په ۱۹۱۷ م کي د ترکی عثماني خلافت په پلوي علی برادران د هند نورو مسلمانانو سره یو تحریک کي ورګډ شول. د دې مشران ونیول شو چي د ابادي زامن هم پکي وو.
ابادي بانو برقه په سر د لاهور یوه جلسه کي د خلافت تحریک په اړه تقریر وکړو. په کور کي به ماشومانو ورته **بی اما** ویل نو په جلسو کي هم ورته د **"بی اما "**نوم اخیستل کیدل. مهاتما ګاندی ورته داد ورکړو چي ښځي باید سیاست کي ګډون وکړي. هغه وخت د دې په اړه یوه ناره مشهوره شوه چي

بولی اماں محمد علی کی
جان بیٹا خلافت پہ دے دو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

جوهر شا و خوا ۴ کاله په جیل کي وه او د یو زندان نه بل ته وړل کیدو. په ۱۹۲۱م کي هغه په کراچی کي د ۲ کالو په بند محکوم شو. هغه وخت د ده لور آمنه ناروغه او د ژوند هیله یي نه وه پاتي. داسي اوازه شوه چي ممکن محمد علی د لور لیدو لپاره انګریز نه بخښنه وغواړي. خو **بی اما** د هغه سره ملاقات ته ورغله نو وي ویل، "زما په لاسونو کي اوس هم دومره زور شته چي که انګریز ته دي سر ټیټ کړو نو مرۍ به ورته خفه کړم".

ابادي بانو د ۷۰ کالو په عمر کي د هند لر و بر کي خپلواکۍ د مبارزي په توګه جلسو کي ګډون لپاره ورتله. دا زړه ور میرمن په ۱۲ نومبر ۱۹۲۴م کي وفات شوه او خپل ابایی ټاټوبي رامپور کي خاورو ته وسپارل شوه.

منبع: دصفېه حلېم دسابت او صفحه

*هلته د هندو کش په ختیځ او د سلېمان د غرونو د لمنو نه تر اباسین پوری غزېدلي سیمي ته به یي روه ویل. په دی کی اوسني سوات، باجوړ ، سیوی ، پشین او لوېدیځ او جنوب خوا ته د کابل او کندهار سیمي شاملی وي. د سلیمان غر چاپیره سیمو ته به یي هم روه ویل. یو وخت ددي سیمو نه ورغلي خلک به په هند کي " **روهیله** "بلل کیده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ